# منظمه توکم پالنه له منځه وړل، ژوند بدلول:

د کیلګري ښار د توکم پالنې پر وړاندې ستراتیژیک چوکاټ 2027-2023

## ژمنه

**په توکمیز ډول برابر کیلګري**


## ماموریت

د پوهنې، بوختیا، همکارۍ، او د تګلارې د بدلونونو له لارې په کیلګري کې د منظمې توکم پالنې له منځه وړلو دپاره ګامونه پورته کول

## په پام کې نیول شوي اورېدونکي

**دننې:** کارمندان، د ښار اداري مشرتابه، کاونسل

**بهرنۍ:** د کیلګري اوسېدونکي، د ټولنې غړي، ټولنیزې اداري او اتحادیې، د توکم پالنې پر وړاندې د عمل کومېټه، مشران او پوهه لرونکي






## په پام کې نیول شوې ساحې 1

### د توکم پالنې پر وړاندې پوهې او روزنې ته وده ورکول او پلي کول

منظم بدلونونه چې اغېز کوي:

**ټولنه**

- د توکم پالنې پر وړاندې د ټولنې د زده کړې په فرصتونو جوړولو کې همکاري کول
- د ټولنې د زده کړې په فرصتونو کې ګډون زیاتول
- د سیستمیک توکم پالنې او د توکمیز توپیر په اړه ګډه پوهه او ګډه ژبه زیاتول

**کارمندان**

- د توکم پالنې پر وړاندې لازمي نصاب جوړول او پلي کول
- د توکم پالنې پر وړاندې دودیزه زده کړه او د پراختیا سرچینې په ګډه رامنځته کول
- د توکم پالنې پر وړاندې د لاسرسي وړ د سرچینې مرکز رامنځته کول

**د ټولنې او کامندانو دپاره عامه خوندیتوب، درناوی، نظم او سوله**

- د کرکې پر وړاندې د زده کړې او پراختیا نصاب رامنځته کول او پلي کول
- د توکم پالنې پر وړاندې د لینز له لارې د عامه خوندیتوب د روزنې بیاکتنه کول
- د کرکې د کړنو او د توکم پالنې د چلندونو د اغېزو په اړه د عامه خبرتیا دپاره ټولنیزه زده کړه رامنځته کول

**اړینې پایلې: د توکم پالنې پر وړاندې زیاته خبرتیا، پوهه، او هنرونه**





## په پام کې نیول شوې ساحې 2

### د توکم پر بنسټ جلا شوي مالوماتو ته وده ورکول او راټولول

منظم بدلونونه چې اغېز کوي:

**ټولنه**

- د توکم پر بنسټ جلا شوي مالوماتو ستراتیژي جوړول
- د ښار د پروګرامونو او خدمتونو دپاره د توکم پر بنسټ جلا شوي مالومات راټولول او کارول
- د بهرنیو ونډه والو سره د مالوماتو شریکولو ستراتیژي جوړول

**کارمندان**

- د توکم پر بنسټ جلا شوي مالوماتو چوکاټ/ لارښوونه رامنځته کول
- د توکم پر بنسټ د مالوماتو راټولولو او شریکولو کار ته وده ورکول
- په اداره کې د توکم پر بنسټ د مالوماتو کارولو پروسې په اړه سلا چمتو کول

**د ټولنې او کامندانو دپاره عامه خوندیتوب، درناوی، نظم او سوله**

- په عامه ځایونو کې د کرکې د کړنو په اړه د توکم پر بنسټ جلا شوي مالومات راټولول
- د عامه خوندیتوب د خدمت په وړاندې کولو کې د توکم پر بنسټ جلا شویو مالوماتو څېړنه ګډول
- د عامه خوندیتوب د خدمت د وړاندې کولو دپاره د توکم پر بنسټ جلا شویو مالوماتو چوکاټ/ لارښوونه جوړول

**اړینې پایلې: د شاهدۍ پر بنسټ پرېکړې کولو دپاره په توکمیزه توګه جلا شوي مالومات**



## په پام کې نیول شوې ساحې 3

### د مشرۍ په ځایونو کې د اصلي اوسېدونکو، تورپوستو او ګڼ توکمیزو ډلو استازیتوب زیاتول

منظم بدلونونه چې اغېز کوي:

**ټولنه**

- د توکم پالنې پر وړاندې د کړنې کمېټې او توکمیز انصاف ته پام ورکوونکو نورو لېوالو خواو لیدل زیاتول
- د اړیکې یو داسې ټولنیز ځای جوړول چې د اصلي اوسېدونکو، تورپوستو او ګڼ توکمیزو خلکو ښودنه کوي
- د اصلي اوسېدونکو، تورپوستو او د ګڼ توکمیزې ټولنې مشرانو سره دوه اړخیزې اړیکې جوړول او ساتل

**کارمندان**

- په توکمیزه توګه د مساوي وړتیا د انتظام د کارونو ملاتړ کول او دا په ګډه رامنځته کول
- د اصلي اوسېدونکو، تورپوستو، او ګڼ توکمیزو کارمندانو دپاره د مشرۍ د لارښوونې فرصتونه زیاتول ترڅو دوی د مشرۍ پر ځایونو مخ پر وړاندې لاړ شي
- د مشرۍ ځایونو دپاره په کار ګومارلو او پرمختیا ورکولو کې د خبرتیا کولو دپاره د توکم پر بنسټ جلا شوي مالومات کارول

**د ټولنې او کامندانو دپاره عامه خوندیتوب، درناوی، نظم او سوله**

- د عامه خوندیتوب د لوړپوړي مدیریت پر ځایونو د اصلي اوسېدونکو، تورپوستو او ګڼ توکمیزو خلکو په کار ګومارل او ساتنې هڅول
- دا ډاډ ترلاسه کول چې اصلي اوسېدونکي، تورپوستي او ګڼ توکمیز خلک د کرکې پر وړاندې د کارمندانو په ډله کې د مشرتابه رول ولري
- د توکم پر بنسټ جلا شوي مالومات د عامه خوندیتوب د لوړپوړي مشرتابه په ځایونو کې د ګڼ توکمیز استازیتوب د څارنې او پلټنې دپاره کارول

**اړینې پایلې: د مشرۍ په ځایونو کې د اصلي اوسېدونکو، تورپوستو او ګڼ توکمیزو خلکو زیات استازیتوب**



## په پام کې نیول شوې ساحې 4

### په توکمیز ډول مساوي پروګرامونو، خدمتونو، تګلارو او نظامونو ته وده ورکول او مخ پر وړاندې بوتلل

منظم بدلونونه چې اغېز کوي:

**ټولنه**

- د لېوالو خواو سره د ښاري خدمتونو د حساب ورکونې چوکاټونه په ګډه جوړول او پلي کول
- د توکم پالنې پر وړاندې د 311 خدمت غوښتنه په ګډه جوړول او چلول
- د نادودیزه کړنلارو له لارې د ښاري خدمتونو او د ټولنیزو فرصتونو خبرتیا زیاتول او د ژبې زیاته ژباړه یوځای کول

**کارمندان**

- د پروګرامونو، خدمتونو، تګلارو، ستراتیژیو، او پروسو دپاره د کیلګري ښار د توکمیزو مساواتو ارزونه ترسره کول
- د توکم پالنې پر وړاندې تګلارې د بیاکتنې وسیله او پروسه رامنځته کول
- د توکمیز مساواتو د اغېز د ارزونې وسیله رامنځته کول او یوځای کول

**د ټولنې او کامندانو دپاره عامه خوندیتوب، درناوی، نظم او سوله**

- د عامه خدمت هغه چمتووالی په ګډه رامنځته کول چې عامه نظم، عامه امنیت او عامه درناوي ته وده ورکوي
- عامه خوندیتوب په زور پلي کوونکو، لومړني غبرګون ښودونکو، د ټولنیز خدمت وړاندې کوونکو او د عامه ټولنې غړو دپاره په توکمیزه توګه د مساوي او عادلانه خوندیتوب د ملاتړ کولو دپاره کړنې او لارښوونې جوړول
- داسې تګلارې، فرعي قانونونه، او کړنلارې په ګډه جوړول چې د کرکې څخه ازاد چاپېریالونو ته وده ورکوي

**اړینې پایلې: په توکمیزه توګه مساوي پروګرامونه، خدمتونه، تګلارې او نظامونه**



## په پام کې نیول شوې ساحې 5

### د توکم پالنې پر وړاندې خوندي ځایونه او پروسې جوړول

منظم بدلونونه چې اغېز کوي:

**ټولنه**

- د هغه ټولنیزو ادارو ملاتړ کول چې د توکم پالنې څخه پاکو ټولنو ته وده ورکوي
- د توکم پالنې پر وړاندې د ټولنې د پانګونې د حساب ورکونې چوکاټ رامنځته کول
- د ټولنیزو ادارو د داسې شبکې تګلاره رامنځته کول کومه چې بدلوونکې بوختیا مخ پر وړاندې بوځي

**کارمندان**

- د توکم پالنې پر وړاندې تګلاره او بیان جوړول
- د توکم پالنې پر وړاندې په روحیاتي توګه خوندي پروسې او ځایونه جوړول
- دا ډاډ ترلاسه کول چې په توکمیزه توګه خبرتیا لرونکې خپګانې پېښې او د ذهني روغتیا سرچینې شتون لري

**د ټولنې او کامندانو دپاره عامه خوندیتوب، درناوی، نظم او سوله**

- په توکمیزه توګه مساوي عامه ځایونو نمونې جوړولو دپاره څېړنیزې کړنلارې رامنځته کول
- د توکمیز حساسیت لرونکو چارواکو او عامه وګړو ترمنځه د اړیکو زیاتولو دپاره کړنې او لارښوونې جوړول
- د کرکې سره جګړه کولو او د کرکې قربانیانو سره د ملاتړ کولو دپاره د کرکې پر وړاندې د غبرګون نمونه جوړول

**اړینې پایلې: د توکم پالنې پر وړاندې خوندي ځایونه او پروسې**



